کېږدی

سلیمان لایق

خپرونکی

Ketabton.com

د افغانستان د علومو اکاډیمی
د ژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز
پښتو ټولنه

دوهم چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د شعر کیـــــــږدی هغو قهرمانو کارگرانوته اهداء کوم چې د سالنګ په سختو غرونوکې یې د خپل وطن د انسان د تلوراتلولار سیخه او هواره کړه .

(سلیمان لایق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د دوهم چاپ سریزه)

دا کـــــــېږدۍ

دا د سارابې ټاټوبی بېړۍ چې سلگونه کاله په دې شگلنو او لمر وهلو دښتو کې ښکته او پورته ځی او راځی زما لپاره نه تمامېدونکې او بې انجامه مضمون دی ؛

دا د هغو سر گردانو پر گنو د خونړیو بریو، ترخو ماتو، دردوونکو مر گونو، لویو تباهیو او د هغه رټل شوی انسان سره د بې ساریو ظلمونو مضمون دی چې نه ماتېږي، نه ور کېږي او خپل انسانی غرور د چا پښنو ته نه غورځوي ،

د کېږدۍ ژبه د بادونو ژبه، د تالندو ژبه، د باران ژبه او کله کله د بیابان په ارت گو گل کې د اوږدو چوپیاوو او ژورو ترږمیو ژبه ده ،

د هغی سر گذشت د یو سر گردان او رنځ ځپلی ملت سر گذشت دی چې له پیړیو راهیسی لوږو ، راځونو، دښمنیو او نه تمامېدونکو بې ثمره منـډوته ورشړل شوی دی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ترانې، سرودونه او داستانونه د همدې سارايي غمځپلی بېړۍ زمن او لونه دي او زه لا تر اوسه دچوپو او غمجنو دښتو د همدې تورې نافرارې کـېږدۍ شاګرديم ،

په دې باور چې دا توره بېړۍ به د برې او نيکمرغۍ ساحل ته ورسېږي او په دې تکيه چې رارسېدونکی سباوون به هغې ته سور رنګـ ورکړي او د تورو تنابونو پر ځای به پر هغې باندې د لمرزرين مزی وغځوی، خپلی سندرې په دې راويښېدونکو بيابانونو کې پيل کوم .

پربېږده چې دا د غمونو توره بېړۍ د راختونکې لمر په وړانګو کې سره شي .

سليمان لايق

(دريم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پیشگفتار چاپ اول)

بجای مقدمه

این مجموعه زیبا گلدسته ای رنگین از اشعار سلیمان لایق، شاعر انقلابی و عصیانگر دوران ماست . افتخاردارم که سطری چند بجای مقدمه برآن می نویسم .

شرایط چاپ این اثر گرانبها و سطور محدودیکه برای این مقدمه اختصاص یافته است ، بمن اجازه نمیدهد درین جا به تشریع دقایق ادبی لطیف آن، از نظرگاه زیبایی شناسی هنری بپردازم و یا ارزشهای اجتماعی آن را به معیار وظایف یک شاعر متعهدد و مسوؤل چون سلیمان لایق، مورد ارزیابی انتقادی قراردهم . از سوی دیگر بهترین جوابگوی این دوسوال عمده و اساسی درباره اینکه: آیااستنباط شاعر از محیط طبیعي واجتماعی اش چیست ؟ و آیا مسایل مربوط به آن را چگونه مطرح و حل میکند ؟ تنها و تناه خود شعر و اثر اوست و لا غیر !

معهذا، این حقیقت را نمیتوان ناگفته گذاشت که سلیمان لایق این شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشاهنگ کشورما، به دو زبان دری وپښتو شعر میگوید ودر هردو زبان بطور کلی. اشعارش از لحاظ شکل (تصویر ذهنی و صورت ظاهری) ملی و تاریخی است او از لحاظ محتوی دموکراتیک وانقلابی. ملی و تاریخی بدین معنی که: تصویر های او از آوارگی صحرانوردان چادرنشین در دشتهای گرم و سوزان کشور تا رنجهای بیکران زحمتکشان اسیر و شلاق خورده کوهپایه های پربرف چونغر، از هیاهوی بزم آرایان کرسی پرست شهرهای ویران تا بساط ننگین برج نشینان مفتخوار قاعه های فیودالی در روستاهای ستمکش، از پیامبران خروشان اباسین تا به نبص آشنایان گردابهای آموا زعقابان پامیر تا شیران خیبر و همه آنچه درین محدوده جغرافیایی در حال شدن وگذشتن بود و هست و در چارچوب مناسبات اجتماعی. اقتصادیمعین و فرهنگی ناشی از آن که دارای گذشته ء تاریخی خاص خود و ممیزات ملی مخصوص به خود بود و در زیر تأثیر قانونمندی عام تکامل اجتماعی تا مقطع زندگی شاعر رسیده است، با واقعگرایی انقلابی بصورت زنده وفعال ارائه و تمثیل می شود وآنچه مربوط بشکل ظاهری شعر لایق است ادامهء سنت های ارزنده و دارای نیروی حیاتی استادان کلاسیک شعر پښتو است که با نوآوری سالم، خلاق و تکامل دهنده مرحله نوین وجدیدی را در شکل شعر پښتو بنیا نگذاری میکند و بدون اینکه به اصول انکشاف یابنده وقابل رشد زبان شعر در ادب پښتو پشت پا زند. باایجادگریهای خلاق درین زمینه، آنرا تکامل میدهد و ظرفیت هنری وتکنیکی بزرگتر و بیشتری بآن می بخشد.

و اما، محتوی دموکراتیک و انقلابی باین معنی که: سلیمان لایق، سخنگوی پرشور و انعکاس دهنده صدیق و راستین نیازها و آرمانهای توده های بزرگ اکثریت معروم جامعه ستمکشی افغانستان است و این نیازها و آرمانها را

(c) ketabton.com: The Digital Library

بمعیار جهان بینی علمی طبقه کارگر - این ذره بین حساسی و دقیق شناخت علمی هستی و ماهیت، حال و آینده و رهنمای عمل رهای بخش تمام زحمتکشان وطنی و جهانی که در آن زندگی میکنند - می سنجد . باساس ایمان خلل ناپذیر او باین جهانبینی علمی بود که توانست افتخار امتیاز نشراتی و مدیریت مسوول مبارز و پر افتخار پرچم (ارگان حزب دموکراتیک خلق افغانستان) این پیشاهنگ طبقه کارگر کشور و تمام زحمتکشان افغانستان ، این مبارز سرسخت و راستین راه تأمین حقوق ملی و دموکراتیک و ارمانهای انقلابی اکثریت بلاکشیده خلق افغانستان این ترجمان صدیق ، بیانگر و مدافع بی ترس مبارزات جهانشمول طبقه کارگر بین المللی ، جنبش های رهایی بخش ملی و جبهه جهانی نیروهای پیشاهنگ ترقی و انقلاب در سراسر جهان را حاصل کند .

سلیمان لایق ، به‌عنوان یک شاعر با درک این مطلب اساسی و علمی که روبنای فاسد و از جمله پدیده های تأخرپسند فرهنگی ، در مقطع خاصی از فعالیتهای هنری چون شعر و شاعری - خاصه در جامعه که از لحاظ نهضت ملی و اجتماعی هنوز در مرحله قشری و احساسی قرار دارد میتواند برای تحمیق توده ها و منحرف ساختن نیرو های جوانان و مستعد بفعالیتهای انقلابی سلاح مؤثر و زهرآلودی باشد . بحق و بجا بمبارزه با شاعران مزدور و درباری و خدمتگزاران فرهنگ برسوده و فاسد طبقات حاکمه و ستمگر و نظام طاعون زدهٔ فیودالی برخاسته ، آنها را بشدت مورد حمله قرار میدهدو به‌آنها بی باکانه میتازد . بیائید این حقیقت را درین مجموعه و بخصوص زیر عنوان (له درباری شاعر سره) باهم بخوانیم و بدانیم که: او یعنی سلیمان لایق - این شاعر مردم، شاعر عصر و دوران رستاخیز توده ها ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

برای رهایی مردم محروم کشور خود از بیهوده گیها و بی فرهنگیها ، شاعران بزمها - بزمهای درباری ، بزمهای فحاشی ، بزمهای رقصهای عریان دختران بی حجاب و عشوه های دلیرانه بغرضی اطفای شهوات اهریمنانه ، بزمهای خمها و جامها ، بزمهای گناهها و هوسها ، بزمهای اقبال کاخها و ذلت ویرانه ها را بشدت محکوم میکند و باین می نازدو بجا می نازد که خودش ، یعنی سلیمان لایق ، شاعر توده های محروم ، فریاد غلامان ، رنج کارگران ، زحمت و ستمکشی دهقانان ، ادبار غژدی نشینان ، از پا افتادن مظلومان ، ناله ناتوانان ، اشک اسیران ، ننگ بزرگران ، مبارزهٔ کارگران و محبت و مؤدت خلقهای وطنش و سراسر جهان است . او میبالد که باین کار : بر تودهٔ باروت آتشی مینگارد : آری ! او چنین کرده است . او چنین خواهد کرد . و او خود را پرچمدار سنگر زحمتکشان کشورش میداند و میگوید : تا زنده است درین موقف پابرجاست .

زهی تصمیم و ارادهٔ انقلابی ! پیروز باد لایق و آرمانهایش

۲ دلو ۱۳۵٤

کابل

بارق شفیعی

(اووم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

ګڼه	عنـــوان	مخ
۱	یه خلکو خلکو !	۱
۲	اوږده لار	٤
۳	پلی	۷
٤	هېرشوی ګل	۱۰
٥	د نیوا په غاړه	۱۳
٦	ژېړې شپې	۱۸
۷	د شګو کور	۲۱
۸	وصیت لیک	۲۳
۹	سرګردان	۲٤

(اتم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰	کیږدۍ	۲۵
۱۱	چونغرته (۱۲) ترانه	۲۷
۱۲	چونغرته (۱۳) ترانه	۳۰
۱۳	چونغرته (۱۸) ترانه	۳۳
۱۴	چونغرته (۱۹) ترانه	۳۵
۱۵	چونغرته (۲۱) ترانه	۳۸
۱۶	چونغرته (۲۲) ترانه	٤۱
۱۷	چونغرته (۲٦) ترانه	٤٤
۱۸	چونغرته (۲۷) ترانه	٤۷
۱۹	شاعرته ! لمړی پیغام	۵۰
۲۰	شاعرته ! دوهم پیغام	۵۵
۲۱	د کنړ سین	۵۹
۲۲	له درباری شاعرسره	٦۲
۲۳	ورکه لار	۷۰
۲٤	ځوان شاعرته	۷۳
۲۵	یه خلکو ! خلکو	۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

يه خلکو خلکو

يه خلکو خلکو ، د وطن خلکو
يه وږيو تږيو ، د غرو و گړو
آزادي څه ده ، خپلواکي څه ده
يه درنه جارشم لوڅو لغړو

که وطن لوڅ وي ، که وطن وران وی
سمسوری څه ده ، آبادی څه ده
که لوټول وي ، که ړوبول وي
خپلواکی څه ده ، آزادي څه ده

بې روحه خاوره ، آباده نه ده
بې پوهی خلك واره بنديان دي
دا پښې لوڅې ، دا په نس وږي
واړه مريان دي ، ټول غلامان دي

که آزادي ده، که خپلواکې ده
د څو سړو ده ، د ټولو نه ده
که واکداري ده، که کامراني ده
د يوې مانۍ ده، د شپولو نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزاد هغه وي ، چې په تن پټ وی
آزاد هغه وي چې په نس موړ وی
آزاد هغه وي چې واک يې خپل وي
آزاد هغه وي چې په ځان جوړ وي

آزاد هغه وي چې کوريې خپل وي
په جهان ښوري لونړۍ وينی
آزاد هغه وي چې په هر گام کی
هم تلک وينی هم کړۍ وينی

يه وږيو تږيو ، يه غلامانو
ليږ رابيدار شئ، درنه قربان شم
يه درواري شم، راگرندي شي
نه چې بوډا شم، نه چې ستومان شم

راځئ چې يو شو ، راځئ چې يو شو
په گډه مات کړو دا ځنځيرونه
راځئ چې پريکړو، راځئ چې وران کړو
مرغلين پړي ، تور زندانونه

له غرو رغو نه، له دريابونو
له سپيرو دښتو، له تورو خونو
سره راټول شئ، سره قوت شئ
يه سيلاوونو ، يه توپانونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د بادونـــــو مستو ښپـــــو کې
مـــــا ته رارسی ستاسی غـــــږونه
د لمـــــر په وړانـــــگو جهان ته لیږم
ستـــــاسی له قهره ډک فـــــریادونه

یه لـــــویه ولسه ته په ځـــــان پویې
ته ستـــــر قوت یې، ته لـوی ملت یې
هم آزادي یې ، هم نیـــــکمرغی یې
هم عـــــدالت یې، هم کـــرامت یې

د تاریـــــخ کرښی ، د زمـــــان پایی
په تا ډکیـــــږي، په تا غـــــږیږي
دا کـــــږې لاری، دالـــویې کندې
په تا سیخیـــــږي ، په تا سمیـــــږي

که څوک قوي دی، خو تا قوي که
که څوک کمزور دی ، د تا کمزور دی
له تا بل شوی ، له تا جـــــگ شوی
که چتري اور دی، که چیرې شور دی

وږي دویم کابل ۱۳۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږده لار

په تـــــوله سیمه کې بـــاران اوري
آسمـــــان ناري وهي وریـــځ ژاړي
زمــــوږ د مخه په یوه خـــره باندې
یوه کـــــده لېږدي اوږده لار نغـاړي

ځو زړې خــــولی په بـــاران لندې
په خـــرې پرتې او به ترې داري وهی
شپیته کــــلن بوډا له ښځی ســـره
پسی روان دی سختــــی لاری وهی

د ښځی غېــږ کې یو مـاشوم ویده دی
کــله چې تالنـــــده شی وریږدي
موریې راټینګ کړی چې دی وژاړي
سریې خپـــل زړه ته برابر کېـــږدي

د باران ځاځـــــکې لکه غشی راځی
سوړ باد په ستر ګـــــو لکه ستنی لګی
د لار تیرې شـــګی په لـــــو څو پښو
د چړو څو کـــــو په شان سونی لـګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بـــــوډا پوزی نه او به څــــاڅی
باد چې پياوړی شي ځګيــروی کوی
کله چې وپـــــرزي نو شـــکر وايي
بيا چې راپـــــــورته شي ستمی وهی

ای پردیســـــانو د وطن زمنـــو
ستاسی مړستون او ستاسی ګور چیرې؟
چیرې خـــاپوړی چیرې لـــوبی کوئ
ستاسی روغتون او ستاسی کور چیرې؟

آيـــا دررسی د زمــــان سندرې
چې درست بشر يو کـــلی کور بولی
خو تا پخپـــل پراخ هيـــواد کې ولی
نه څوک شريک او نه خپل ورور بولی؟

باران خو ګـــورئ چې قطره قطره دی
چې سره يو شی لوی درياب جوړ کړي
بيـــا چې په يوه لارهکې سر کيـــږدي
کانې پرې باسی او سيلاب جوړ کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تـــــــوله سیمه کې بــــاران اوري
آسمـــــــــان نارې وهی وریــــــځ ژاړي
زمــــــــوږ د مخه په یوه خـــــره باندې
یوه کـــــــده لیږدي اوږده لار نغــاړي

دغوایي ۱۳ کابل ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلې

د او چتـــــو غــرو په منځ کې
په اسفالت ســــړک روان و
مــلا دردمنه ، پښې چــاودې
لاره لـــرې وه ستـــــومان و
لـــــړې پلنې وې په غــــرونو
راروان یاغـــــــــی توپـان و

لاروي ته ور په یـــــاد شول
په دې واټ کې خپل کــارونه
د دې غــــرو په مـــاتوو کې
خپـــــلې هڅې ، زحمتـــونه
کلنـــــگونه ، زنبیـــــلونه
ســـاړه ژمی ، سخت کــلونه

کلــــکې پرښې مې کړې ماتې
سرکش غــرونه مې هوار کړل
سین مې سیخ که خپل بستر کې
سیـــــلاوونه مې مهــار کړل
ستــر پلـــونه مې تیــار کړل
توپــــــانونه مې ایسار کـړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بریتـــــو د مســـاپر کې
یوه ترۍ مســــکا پیدا شوه
په ســــاده زړه کې یې وینبه
یوه خـــوب وړې تمنـــا شوه
«کاشکې بیــا په دغو غرو کې
د کـــارونو سوه غوغـــا شوه»

« کاشکې بیـــا دغـــو دروته
پخـــــوانی ملـــگري راشی
کاشـــکې بیـــا په دغـــو لاره
لمـــر راوخیـــژي رنهـــا شی
کاشکې بیـــا زمـــا غـــوبږو ته
د مـــاشین سنـــدره راشی»

«کاشـــکې دغه ځیـــږه لاره
بیـــا زمـــوږه د کـارو شی
په هـــر موړ او هره څـوکه
مـــاشینونه په نـــارو شی
دا وطـــن او دغـه ســـیمه
د جهـــان د ننـــدارو شی»
نا څـــاپی وربانـــدې راغی
یو مـــوټر له پاسو غـــرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شګکې ختې یې وربـــاد کړې
دی یې ویوست له اوبـــونه
پنـــډیې ولـــوېده له شـانه
رابیـــــــدار شو له خوبونه

او سیـــــلی یې را اوچت شو
له ګـــــوګله سره لمبه شو
په یوه تیــــږه باندې کیناست
په خپل ځـــان باندې اخته شو

وی یې «بیا دغه شین سترګې»[1]
مـــــاته ولی په غصــه شو
اې دغــــــــرونو مساپره !
دهر چـــا ده خپـــله برخه

ترخو دا آسمـــان ولاړ وي
و به نه وزي له دې نـــرخه
څه اوچت څه لنـــډوه یې
دغه تــوره اوږده کـــرخه

دغبرګولی ٦ سالنګ ١٣٤٢

١ ــ شین سترګی – آسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیر شوی گل

دیوه خــــوږ له څنــــگه ناست یم
ستـــــــړی شوی، سا نیــــولی
پښې تـــــر دوړو لانـــــــــدې پټې
وږی تــــږی، لمــــــــر وهــلی

نظــــر وړمه اې خـــــوا دې خــوا
په پوټیـــــو په اغـــــــــزو کې
کـــــــــله لوېږي په کـــــربوړو
کـــــــــله ښوري په وښـــو کې

د میـــــږیانو ځالی خــــــوا کې
سو اوږده پــــــــانه پـــرته ده
بــــــاد راوږي، لمـــــــر وهلی
یېره شـــــوی ده، ورســــــته ده

خــدا زده خــدازده دغه پــــــانه
چـــــا راوړی له باغــــــــــونو
کـــــوم شپـــــانه په لښته پـوري
سیـــــــــــلاوونو، که بــــــادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا پـــــانه پـــــانه نه ده
دا یو گـــــــل دی رژیـــــدلی
بې باغـــــــوانه راشین شوی
لـــــکه ستـــوری ځلیـــدلی

پســـــرلی راغـــــــوړولی
یــــــوه شیبه یې خنــــــدولی
تنهـــــایي له پښـــو لـــوولی
د جــــــوزا لمــــــرو وژلی

ته بې سره د بیـــــــــدیا گـــــله
څه بیـــــځایه زرغـــون شوی
د ســــاره په چپـــــاوو کې
تبـــــا شوی ، زبـــــون شوی

نه چـــــا با غ کې کېنـــــــولی
نه چـــــا زلفو کې ټومبـــــــلی
یوه خــــــوله یې خندیـــــدلی
بیـــــــا دستی یې رژیـــــدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه په مينه کې بدنـــــــــام شوی
نه قاصـــد د کــوم پيـــام شوی
نه وږمـــه د کـــــوم مشام شوی
نه د بـــاغ شوی ، نه د بــام شوی

نه بـــــورا درنه تــــاو شوی
نه بلبــــــــــل درنه خبــر شو
نه ځــــــوځان چـــا درنه پريکړه
نه لښــــتی دربـــــــرابر شو

زمــــــا په ځيــر لمــر وهلی
وينـــــه وچه ، رنـــگ بايللی
سر په خـــــــاورو ايښـــوولی
بې گنـــــــــاه له مينځه تــللی

د بيــــــديا هيـــر شوی گـــله
ته لا ښه يې ، زه دې ستــــــايم
زه کـه مـــــرم که تبــــا کيږم
يک تنهـــــــــايم ، يک تنهـــايم

د چنگاښ ۱۵ کوهدامن ۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیوا په غاړه (۱)

نیـــمه شپه ده زه بیـــــــــداریم
خوب مې نشته ، خوب به څه وي
څــــوک چې ما بیــدرده بولی
درد به څه ، آشـــوب به څه وي

• • •

زړه مې غـــواړي چې ناري کړم
د نیــــــــوا د سین په غــــــاړه
لیــــــــونی په ځان خبــر کړم
پې کــــم خــــــلاصه خپله غاړه

• • •

د اسحــق په کــــــــلیسا کې
لا جـــــــاري د مـــزدور وینی
دا خــــــو زه گنــــاگار نه یم
چې ته ړونـــــــدیې نه یې وینی

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلــــته هـلته ، بنکـــــته پورته

توپـــــانونه ، توپـــــانونه

لا خوځېـــــږي، لا جـــګېږي

بحـــر بحـــر ، غرونه غـــرونه

• • •

لا د سری د میـــــدان خواکې

پورته کېـــــږي فــــــريادونه

په نیـــــــــوا لا روان دي

د تاریـــــــخ انقـــــــلابونه

• • •

دا زانــــــــګو د انقلاب ده

زړه ځـــــــــاله د بازانـــو

نوی کـــــور د نويو خلـــکو

امیــــــد ځای د نامینـــدانو

• • •

اې پیغلـــوټو اې ځـــــوانانو

اې سپین پوستو ، اې تـــور پوستو

سره يو شئ ، سره يــــــو شئ

اې تور څنهـــو ، ژېړ ويښتـــانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ځــــان وینمه شرمیـــــږم
ژبه گــــــونگه ، سر بې شوره
ژونـــد بې نوره، زړه بې عشقه
پښې مــــــاتې، مټ بې زوره

• • •

اې د ژونـــــد خــــوږه نسیمه
یو څـــه زور را ، یو څـــه اور را
ننه زړه کې لمـــــــر د عشق را
په دې لمـــــر کې ګرم کور را

• • •

یا تـــــرخه را ، یا خــــــوږه را
یا شـــــراب را ، یا کـــــوثر را
یـوه لحظه کې ، یـوه شیبه کې
یــــوه لمبه را ، یــو شـــرر را

• • •

زمــــا زړه ته لـــــوی محل را
زمــــا کـــور واړه جهان که
څو ک راورونه که څوک خوندي
یو وجـــــود راته انســـــان که

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــــا نظر لـــکه د بـــاز که
پلن په غـــــــرونو، خپور په تړو
زمـــــا ليـــمه لـکه باران که
هـــم په لـــوړو، هـم په ځوړو

• • •

مـــــاته هسې ستـــر گې راکه
چې سپين وويـنـــم په تور کې
مـــــا له هسې توفيـــق راکه
چې ايـــــره نشم په اور کې

• • •

د مظلوم او ښـــکې درياب که
تژې او چت که توفــــــانونه
پرې خوره بريښنـا د عشق که
ترينه جـــــوړ که جهانونه

• • •

يو جهــــان د انســـــــانانو
چې کې خـــوار او امير نه وي
چې ځګيروی ترې نه پورته نشي
څوک د بل چـــــا اثير نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې د ژوند خوږه نسیمه
لېږ راغبرګ شه په بازانو
د دې دښتو په خوب وږیو
د دې غرو په لیونیانو

• • •

یو ځل وینې که جګې جګې
دا زمرۍ له دې ځنګلو
یو ځل پورته دا پردې که
له خیبر او له ګوملو

• • •

اې د ژوند خوږه نسیمه
ولې چوپ یې لېږ ګویا شه
خیر که موږه دوزخیان یو
لېږ پخلا شه ، لېږ پخلا شه

د جولای ۱۰ لنینګراد ۱۹٦۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژېړې شپې

هـــره خوا گـــلان خزان ځپـلي دي
باغ کې د بلبـــــل ځاله ويــــرانه ده
وريځـــــو بيا د غـم ژړا سر کړې ده
دا د غـــم نـــړۍ په غـــم ودانه ده

● ● ●

بـاد د ونو پانـــــــو کې نارې وهي
منې يې غـــــوړ و کې څه ويلي دي
سترگې د فلـک له وينو ډکې شوې
گـــــوره زمـــانې بيا څه کړلي دي

● ● ●

پاڼې د چنـــــار لـــــکه زما هيلې
ژېړې ژېړې ښــکارې رژېـدلي دي
ژاړي د تاکــــونو لوخو څانگو ته
ستـــر گو کې يې ويني تو کېدلي دي

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

هالته د زړې کــــــلا په وره باندې
ګونګ بیـــا زړې شوې ترانې وايي
ګـــوره په دې شپه کې دا زړه بـــلا
بیـــا د چا افسون ته افســـانې وايي

● ● ●

ناست یمه ، زنګیـــږم په غمونو کې
تـــوره شپه روانه ده منـــــزل وهي
پـــورته د آسمان په لرې سیمـو کې
ویځـــو کې یو ستـــورى ځل وهي

● ● ●

کـله د کږېږې په تور لوګجن زړه کې
وخــــاندي یوه هیله راته ورانه شي
څو چې زه له خـوبه سترګې پاڅوم
بیـــا هغه ویـده شي پښیمـــانه شي

● ● ●

وړانګې د سکروټو د کوټې په چت
رېږدي لـــکه مینه زمـــا په وینو کې
غـــم په توره شپه کې اسیر کړى یم
خوځي مې په پـلو او په رګونو کې

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې د منی ژیړ او کـــــرار شپـــــو
وخوځېږۍ، لړې شئ او تېرې شئ
پرېږدئ چې د واوره بېرستن پـلنه شي
پټې شي تر واوره لانـدې هېرې شي

● ● ●

وځـــلېږه ته اې مقـــدسه لمـــــره
رنګ کړه د سبا د پسرلی ګـــلان
دغه غمځپـــلی خـــاوره ګرمه که
وخنـــــدوه دغه ژړنې آسمـــان

د لړم ۳ کابل ۱۳۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شګو کور

څه ده د ژوند د ماشومانو آرزو
چې سپېرې خاورو کې خوسی وهي
له تشو شګو نه مانۍ جوړوي
ګټی رابـاسي او ستمی وهي

• • •

اې د کوڅو خورو ورو ملګرو
راځئ چې نوې لوبه ساز کړو
دغه شګلن کورونه ونړوو
ځان له دې خاورو بې نیازه کړو

• • •

دغه د شګو ناتمام کورونه
زور د سیلاو او زلزلو نلري
دا تورې خاورې، دا فاني باغونه
ارزښت د جنګ او د دعوو نلري

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځ چې هیـــــلی څه رنګینی کړو
راځئ چې نوې تـــــرانی ووایـــو
د زمــــــانی په دې زړو غـــوږو کې
د ژونـــــدون نوې افسانې ووایـــو

• • •

مــــلګرو اې خورو ورو مــــلګرو
له دې ویـــــرېږم چې ناښـاد به شئ
د زمــــــانې د توپـــــانو مخی ته
که سره یو نشئ بربــــــاد به شئ

د تلی ۲۰ کابل ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصیت لیک[1]

کــــله چې مړ شمه یـــــارانو مــــا
تر تورو خـــــاورو لاندې پرې باسئ
په ډېر پــــراخه او ناپــــــایه بیـــــدیا
د خوږ یوکراین زړه ته مې ښکېباسئ

هسې چې ارت او هــــوار دښتــــونه
درست دنیپـــــــر او د هغه څنـــــډې
ښـــکاري او وایې وري زما غوږونه
د سین غـــــــــورکې او د څپو منډې

پرې باسئ مــــــا او تاسې پاڅېږئ
بندونه مات کړئ، کړئ وشرنګوئ
د دښمنـــــــــانو په ناپاکـــــــــو وینو
فتـــــح او برې ملــــــګرو ولمبوئ

کــــله چې نوې کــــورنۍ جوړه شي
هغه چې ستـــــــــره او آزاده وي
ستـــــــاسې په نرمه مهـــــربانه ژبه
یوه شېبه غـــــــوارم زمـــــا یاده وي

د اکتوبر شپاړسم ۱۹۶۷

---

۱ ــ دا شعر د اوکراین د مشهور شاعر تاراس سوچنکو اثر دی.

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرگردان

خوځـــــمه دژوند له قـــــافلو سره
زه یو دمـــــــزلونو سرگــــردان یمه
خــــدازده دغه لاره کـــوم پلو ته ځي
زه داهســـــې چـــــاپسې روان یمه

• ● •

څه وایي دژونـــــــد مساپـــرانو ته
دا د کـــــــاروانونو دغمو جــــرس
کومې خوا ته ځي څه یې په زړه کې تې
دا بیـــــــابان گرده لیـــــــونی هوس

دوړې ٦ کابل ١٣٣٨

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږدۍ

هالته د وچ ډاګ په لمنه بانـــــــدې
د منی بـــــاد ته یو کیـــــږدۍ رپیږي
په دې کېږدۍ کې یو رنځوره ښځه
اور بلـــــــــوي او له درده ژړیږي

د کمیسه له تـــــــرازو څـــــخه یې
د بې پنا صورت پوســـتکی ښکاري
د وجــــود غوښه یې رنځور خوړلی
په هر اندام کې یې هډوکی ښکاري

یو ډنګر سپی ګرد له کېږدیه ګرزي
یوه زړه اوښه په اغـــــــزیو چوده
د خـــــاورو دوړو کــــاروانونه روان
د مــــازیګــــر ستـــرګه په کښنستو ده

دغه کیـــږدۍ دا مســـــــاپره بیړۍ
چې لارې نغــــاړي او مزلونه وهي
کومه خوا درومي، چېرې لاره کوي
د څه لپـــــــاره واټنـــــونه وهي

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې تـــورې تعـــورې د ساره بېــــږۍ

د بې وطــــــنه پوونــــــده وو یاره

وایه چې کــــــــله به منزل ته رسي

ستـــا د ستــــومانه ژوند اوږده لاره

د تلی ۲۵ کابل ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغرته !

(۱۲) ترانه

پرون پردیسـو اواره وریځو
چونغره، غـوږ کې تا ته څه ویل
له کـومه رنځه یې شـکوه کوله
چې کړی شپه یې ستـا پښنو ته ژړل

• • •

دا ابدي پردیسـان چېـرې درومي
د دوې د منـډو سرانجام به څه وي
ولې په غـرونو، په رغونو گـرزي
ددې ستومان کاروان مرام به څه وي

• • •

کـله اسمان کې د اوښانو غـوندې
غـلی خوځېـږي او منزلونه وهي
کـله وحشي شي، توپاني شي پسې
په غـرو وردانگي یرغـلونه وهي

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږدۍ

کــله شي ښکته د چتـــــريو په څير
د غــــــرو لمنـــو ته خيمې ووهي
کــله هيلۍ غونــدې د سين په اوبو
ښـــــکته شي ولامبي غوپې ووهي

• • •

کــله د غرو پڅو کو څو کو بانـدې
کتــــار کتار شي کــــارونه تېري
کــله شفق کې سره لمبه شي داور
سپينو مالــــوچو کې اورونه تېري

• • •

کــله د شنه اسمــان په پــاکه دړه
ايرانوونـــــکې تصـويرونه باسي
کله سپــوږمۍ ته پالنګ وغوړوي
خپــل تږې تږې ارمـــانونه باسي

• • •

کــله د واورو انبـــــارونو څخه
لمن راډکه کـــړي توپـان راولي
کله بيا خـــاندي او سندرې بولي
پسرلی وروزي او ګـــلان راولي

• • •

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله تر پښنو کړي بیا سینونه غرونه
په پراخ اسمان کې سرگردان گرزي
نا معـلوم لوري ته مـــزلونه وهي
اوړي را اوړي او ایران گـــرزي

● ● ●

چونغره زه هم ستومـان شوی یمه
له دې بېخونده ساړه ژونده څخه
رائحه په گـــله بانـــــدې ولتهوو
لاره د تېښتې له دې بنـــده څخه

● ● ●

د دغو گرزندو وریځـــو په شان
ازاد پــرواز، ازاد سفر غـــواړم
چې ما پراخو اسمـــانو ته بوزي
هسې شهپــــر ، هسې وزر غواړم

● ● ●

څــــرخم به ، رغـړم به بهېږمه به
تــــل به ازادې تـــرانې وایم
د اسمــــان ستورو او پیرونو ته به
د سړې ځمــــکې افسانې وایم

دلیندۍ ۱۴ کابل ۱۳۴۱

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغرته !

(۱۳) ترانه

اې د بلا او حـــــادثو چونغـــــره
بیا دې په ږیره باندې سپین ښـــکاري
نه نه په غـــــاړه دې د اورو امیـــل
لکه د سپینـو لونــــگین ښـــکاري

● ● ●

د سپینـــو واورو تر دلیــــو لاندې
عجیبه درونـــد او ښایسته ښـــکاري
څومـــره مغـــرور او بې پروا یې ولاړ
له درست جهـــانه وارسته ښکاري

● ● ●

ستاېي په څه چې سین کنـــګل نیولی
او کب نیوونکې کبـــان نشي نیوای
یا رنځـور غاړی او کمـــزوری بوټیه
په دغو واورو غـــــرو اه نسي ختای

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاپي پې څه که ستا په لوړو څوړو
واوري له باد سره نڅاوې کوي
یا خواره مور خپلې رنځورې لور ته
شوګیرې ګالي او ژړاوې کوي

• • •

ستاپي پې څه که للمي کاره بزګر
لرګی او بوټی د خپل سون نلري
یا پې ماشوم چیرې ګریوان ګرزي
موریې ګنډلو ته یوه ستن نلري

• • •

ستاپي پې څه که مساپر مزدوران
لخ کاره پاتې دي او کور نلري
یا هغه مزی بې شعوره سود خور
پخ چا زړه سوی نلري، وروړ نلري

• • •

ستاپي پې څه که دوطن حاکمان
خلکو ته ګوابني او بیګار چلوي
په هغو لارو چې خر نشي ختای
په انسانانو باندې بار چلوي

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو ته همـــــداسې بې شعـوره اوسه
ستاېې زمـــــــوږه له دردو سره څه
تا ته د واورو خــــــولۍ تاج برېښي
ستاېې له لـــوږو او مرگـــو سره څه

د مرغومي ۱۰ کابل ۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغرته !

(۱۸) ترانه

اې د ږبرو تـــــــور دېبې چونغـــــــره
ما وې چې ویښ دې کم ملګری به شي
د ستمـــــــــګرو د سر کـــــانی به یي
د زیارستونـــــکو د زړه خوری به شي

• • •

ما وې چې ویښ دې کم ، مرچل به شي
د دې یـــــــــاغي زړګی تسل به شي
زمـــا د سرې مینی محـــــراب به شي
ژونـــــد به شي، منـــــډه او تکل به شي

• • •

ما وې چې ویښ دې کم، عیسی به شي
دې ویـــدو خــــلکو ته به سا ورکوي
په سړو سمڅـــــــــو کې به اور بلوي
تیــــــارو درو ته به رڼـــــــا ورکوي

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې چې وینړ دې کم، جهان ویښ شي
ته لا ویــــده یې خو جهــــان ویښ شو
دغه کــــارګر، دا هستوونکې جهان
دا د هستۍ جـــوهر انسان ویښ شو

● ● ●

اوس که ته نه پاځیـــږې ، مه پاځیږه
په کروندو کې دې دهقـــان ویښ شو
ما لا د یوې بریښنـــــا سوالونه کول
خو داسمان په زړه کې توپان ویښ شو

● ● ●

اوس راویښ شوی د پیـړیو غــــلام
په مړو رګــوکې دې ژونـدون خوځي
له هر کمـــــــره د عشـــق اواز وزي
په هــره لویشت کې نوی یون خوځي

● ● ●

اوس راجګ شوی دی جهان جوړوي
دا زیار ځپـــــلی ، رټل شوی انســان
داغ د پرون ربړ ګـــــالونکې اسیـــر
دا د سبــــا د کائنـــــاتو سلطـــان

د چنګاښ ۲۵ پلخمری ۱۳۴۷

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغرته !

(۱۹) ترانه

دغه راوري د بـــــاران ځـــــاځکې
که له خوږمن زړه د توپان ځـــــاځکې
یا ســــــره ایشی په دره دره کـــې
هم د باران ، هم د توپـــان ځـــــاځکې

● ● ●

که سره یـــو شي درانې قطـــــرې
وطـــــن به واړه شي ځپـــې ځپـــې
نرمې اوبه به شی تیـــــرې تیـــرې
د گـــــلو پاڼې به چـــړې چـړې

● ● ●

هلته دغرو په څوکو څوکـــــو باندې
په تورو ویځـــــو کې بریښنا ځغـلي
د خوب ځپـــلی ښار په خښته خښته
د ژونــــــد د تالندې غوغـــا ځغـلي

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پسرلی د باران ښکلې شرنګی
د امیدونو ترانې خوروي
د زړې خاورې په ستومان زړه کې
زېری د نوې زمانې خوروي

• • •

په مړه بېدیا به پسرلی راشي
زه په چمن کې نوی ژوند وینم
مړاوي ګلان به وزر وغوړوي
زې له سبا سره پیوند وینم

• • •

چونغره وغږوه وغږوه
نوی انسان ته د سبا سازونه
پرېږده چې واوري دغه نوی انسان
د خپل وطن د مستقبل رازونه

• • •

د باران غږ د امیدونو سرود
د خورو خلکو د ننګونو سرود
پرېږده ویده غوږو ته وغږوي
د زیارایستونکو د جنګونو سرود

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغـــره اې زما د ارمـــــان چونغره
زمـــــا د شعر قهــــــــرمان چونغـره
دې خپل گـــــو گل ته خو اېږ. ننه باسه
يو څه زمــــــا ياغی توپـــان چونغـره

• • •

پرېږده سرې ډډې دې گـــرمې کړي
دغه شعـــــــــرونه ، دغه سرې لمبې
پرېږده د غـــــوږ پردې دې ولړزوي
د وطنپــــــــال زړه ابـــــدې نارې

د تلی ۱۳ دهانهءغوری ۱۳۴۸

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغرته !

(۲۱) ترانه

چونغـــــره ستــا په ترو ترو بانـــدې
زمـــوږ داوښــــکو بارانـونه اوري
خـــو دا درحم اوبه نه دي گـــوره
په تا دخــــــلکو غضبـــونه اوري

● ● ●

ستــــا په درو کې بیا دکـــار پرگنې
دحاکمــــــانو شـــــلاقونه گـالي
دتا له څوکـــــــو تر لمنې پــورې
دڅو لیـــــــوانو یرغــــلونه گالي

● ● ●

دتا هرکـــــــانې دبزگـــرو دسر
دتا هر اغـــــــزی دهربزگر دځگر
دتا هراور دبیــــــــوسانو په کـور
دتا هرسیــــــل دمــزدورانو د در

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تا لمــن د بې لمنـــــــو لمن
د تا هستی د بې حاصــــلو هستی
د تا غوغـــــا د نازولو غوغـــــا
د تا مستی د مستبـــــــدو مستی

● ● ●

د تا ځوځـــان د بزګــــــرانو برخه
د تا غنــــــم د نازولـــــو شومه
په هـــره لاره کې دې ایښی تــلک
په هـــره پوله کې دې لـــــکه لومه

● ● ●

د تا خــوراک د بزګــــــرانو غوښه
د تا شراب د زیارایستونـــــکو وینه
د تا امیـــــــل د دوی د رغوو پــولۍ
خـــو د تا مینه د ظالمـــــــو مینه

● ● ●

اې د ظالمــــــو مستبـــــدو کوره
ایــا زنـــــګونه د زمـــان درځي
مـــــوږه یې وینـــو په رڼو سترګو
چې ستــــالمنې ته توپـــان درځي

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن یا سبـــا سرې بخـــونې وریځې
ستــا هرې پرښې ته پیغـــام راوړي
دغو بزگــــــرو دربـــــدرو ته
زیری د جنـــگ او انتقـــام راوړي

• • •

بــــاد دغضب به په دره دره کې
بولۍ د ولس د ویښیـــدو خوره کي
دا د ظالمــــــــو د دوران نښې به
واړه له بیــــخ او له ریښې چپه کي

دمرغومې ۱۰ پلخمري ۱۳۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغرته !

(۲۲) ترانه

اې د شعـــــــرونو او الهـــامونو چونغره
بیـــــا مې مغــــــزو کې ترانې خوځې
ستـــــا د کمــــــرونو په قدم قدم کې
د ژونـــــــد د میني زلــــــزلې خوځې

● ● ●

گـــــــلان خپاره کړه چې بلبل دې شمه
خپـــله مستی کې یو غوغـــا خــوره کم
بې روحــــــه تړو ته دې ســـــا ورکم
په مـــړو رگـــــوکې دې رڼا خـــوره کم

● ● ●

ستـــا په هر مــــوټی کې د ژونـــد سرود
له ورایه وینــــــم چې څپـــــان خوځې
ځـــــــکه زما په لیـــــــونی شعر کې
د ځــــــوانو هیـــلو یو جهـــان خوځې

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګـــــلونه وغـــوړوه جــــار دې شم
شپې د بهـــار دي چې بهـــار شي مست
خیـــر دی خیـــــر دی که تـــږی یمه
پرېږده چې تنــــده او خمـــار شي مست

• • •

پرېږده چې خــــاورو ته دې وغـــــږوم
د ځــــــوانی مینـــی ترانې تــــــرانې
په مــــــړو هــــډونوکې دې وخوځوم
بې حــــــــرکته زمـــــــانې زمانې

• • •

وریځـــــې رابـــــولمه چې واوروي
ستــــا په کمــــرونو د رحمت باران
برېښنـــــا به وبـــــاسي په وچــو تړو
زمـــــا د مینې ابـــــــدي عنـــوان

• • •

خپــــــلو شعــــــرونو ته به ژوند ورکم
ژونــــــد ته به نـوی شانې خوند ورکم
ازورده هیـــــلی به پخـــــلا کمه بیــــا
مـــــات شوی زړه ته به پیــــوند ورکم

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغـــره، اې زمـــا د شعر چونغـــره
ثـــو چې نړۍ وي ته ابــــــاد اوسه
د زمـــــاني له چپــــــاوونو ثخه
تـــــل په امــــــان اوسه، ازاد اوسه

د چنگابښ ۱۳ کابل ۱۳۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغرته !

(۲٦) ترانه

چونغـــــره بيا سپيني يــــــاغي وريځې
کيښودې ستا په ځېرو شونډو شــونډې
دا د اسمـــــــان د حــــوادث لــــولې
دا د توپـــــان د تنــــدرونو کـــــوندې

• • •

بيــــــايې شــــــلولې دې جـــامې ته تنه
چاک د حــــرير نه يې پنډې ښـــکاري
په اوسيــــــلو کې يې د تيـــو کـــوبې
لـــــکه ځپـــو کې چې بېړۍ ښـــکاري

• • •

ځومـــــــــره وحشي ده د اسمــــــان پيغله
دا د حـــــــــرير د پاغـــــــــوندو جوړه
دا د سپوږميـــــــــو له مــــــــرمرو وتې
دغه د ستــــــــــــــــورو له ايرو جـــوړه

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه مین یو خـــــــو د دوو لارو
زه د ننـــــــګونو، ته دنجــــونو مین
ته د لیــــــــلی د اننـــــګونو مین
زه په لمبـــــو چې د جنـــګونو مین

• • •

ته د اسمــــــان د سپینو نجــونو عاشق
د رڼو شپــــو دوصالـــــونو عاشق
زه د سرې ځمــکې په مړه ګوګل کې
د زلـــــــزلو او توپــــــانونو عاشق

• • •

ته د ښـــــکلا او مکیــــــزونو لیوال
زه د لمبــــو دیرغـــــــلونو لیوال
ته تربږمۍ کې د خوبــــــــــونو مین
زه په تیـــارو کې د جنــــګونو لیوال

• • •

تا زړه بایــــــللی د اسمـــــان په مینه
مــــــا زړه بایـــــللی د انسان په مینه
ته له خپـــله عشقه ټول جهان جاروي
زه چې ژونـــــــدی یم د جهان په مینه

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه شوو چې ایل شوو دا یاغي عشقونه
ښې شوې چې تم شوې دا ناتمه منډې
ښه شوو پوره شوو دا زموږ ننـــــګونه
ښې شوې عبث شوې د اسمان ملنډې

دلیندۍ دوهم ۱۳۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونغرته !

(۲۷) ترانه

چونغـــــره اوس دې په خـــورو دروکې
زمـــا د گــرمو چيغـــــــو زور وليد؟
بيـا دې په سترگو د زيار کښ انسان کې
د راويښ شوی ژونـــــدون شور وليد؟

● ● ●

بيــــا خو دې وليـــده چې وسپــړېده
په مـــــړاوي گل کې ويـده شوې خندا
د زمـــــانې سترگـــو کې وبرېښېــده
زمــــوږ د تورې غـــلی شوې برېښنا

● ● ●

ستوري دې وليـــدل چې وځځېـــــدل
ستـــا په اسمـــــان لکه په گلو پرخې
سپوږمۍ دې وليــــده چې وې ايستلی
ستـــا په لمن د سپينـــو زرو کـــرښې

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـــــرونه دي ولیــدل چې ولـــړزېدل
درې دې ولیــــــدې چې وخوځېـدې
لېـــــوان دې ولیدل چې وتښتېـــــدل
رمې ددې ولیــــــدې چې ونځېــــدې

• • •

اسمـــــــان دۍ ولیــــده چې وغوړېده
وریځې دې ولیـــــدې چې وځـــړېدې
سیـــــلاب دې ولیـــــده چې وخوځېده
ځپې دې ولیـــــــــدې چې وځرخېدې

• • •

وطن دې ولیــــــده چې پاځېـــــــده
خلک دې ولیـــدل چې وښورېـــــــدل
دوستـــــان دې ولیــدل چې وموسېدل
دښنه دې ولیـــــــدل چې وژړېـــــدل

• • •

دا د راتلـــــــونکې رسېـــــدنکې توپان
د سر اغـــــاز او د راتــــــلو نښه دي
د دې وطن په دردېــــــــــدلی زړه کې
د سره ژونـــــــدون د ویښېدو نښه دي

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا به له هســـــکه تنـــــدرونه اوري
دا به په ځمـــــکه سرې لمبې خوځي
زمــــوږ د سرو ننـــګو په فخر کې به
د ټولو خــــــــلکو پل او پلی خوځي

● ● ●

اوس خو دې ولیدل چې وغـــورځېدل
له غټــــو خرو نه طــــلایي زینــونه
د طبیـــــــلو په سوړو ننـــــــــوتل
بېـــــرته یې واچـــول په ځان ځلونه

● ● ●

ما چې سندرې وې دغرو اغــــزو ته
هغو اغـــــزیو اوس ګـــــلان راوړل
هغه د ګلــــــو د ژوندون دښمنـــان
د قبـــــــر غاړې ته زمــــــان راوړل

● ● ●

چونغــــــره، اې د افسانو چونغـــره
زمـــــا د ګـــرمو ترانو چونغــــــره
اوس خو تازه که دژونـــدون سازونه
د وینښېــــــدونکو ولسو چونغـــــره

د چنګاښ ۲۸ کابل ۱۳۵۳

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر ته[۱]

(لومړی پیغام)

اې د بنـــــدو او زولنـــــو شاعره
د وږیــــــو تبنیــــو پښتنو شاعره
لادرکې شته دې څه سکروټې که نه
د پرونیــــــــو سرو لمبــو شاعره

• • •

تسا په سندرو اوس کامونه خوځي
گــوره چې غلی نشي ، هېــر نشي
زه د اسمـــان لـــــوبه بدله وینم
گـــــوره له خپله هـــوډه تېر نشي

• • •

له هـــــر اوازه سیــــــلاوونه وزی
له هــــره شعره زلـــــزلی خوځی
له هــــره چیغی د مـــــردانو سره
د ژونــــــــد او هیـلو قافلی خوځی

• • •

۱ ــ له شاعر نه مراد اجمل خټک دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وچه بېــــديا به سره گلونه راوړي
په هديروکې به خنـــدا خوره شي
د دې تيارې ځمکې په ګېډه کې به
د ښتنې توژې بريښنا خــوره شي

● ● ●

په لوړو څوکو توري وريځې خوځي
په درانه نس کې سيـــــلاونه لري
په غصه شوي دردېــدلی زړه کې
ځــــوانې څپې او تنـــدرونه لري

● ● ●

د هــــرې تالندې اواز کې ګوره
د نوي عصـــــر پيغامــونه لېږدي
د غــرو د سره افــق نه پورته ښکته
د نوی ژونـــد انقــلابون لېږدي

● ● ●

د هنــدوکش د باران هـــره قطره
مخ په اټک او ابـــــاسين درځي
دلته د تللــــــو بـــله لاره نشته
هرڅه چې خوځي لکه سين درځي

● ● ●

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سحر باد چې ستا باړ ته ورځي
دغه زمـــوږه اوسیـلی دي کنه
ستا د زړګی دا غوټه غوټه وینې
ګلـــونه زموږ د پسرلی دي کنه

● ● ●

پام کوه ګوره درنه مړا وي نشي
دا به باغـــونو ته رنګـونه ورکي
د پښتنـــو د اوربل نـــذرېږي که
چې عاشقـــانو ته ننګونه ورکي

● ● ●

د تا مستی د هنــــدوکش ترانه
زمـــا نڅا د اباسین سنــــدره
راځه چې جوره کړو په دواړو وزړونو
یوه غـــوته شوې پښتني خبـــره

● ● ●

راځه چې نوې پیـــالی وکړنګوو
راځه چې خـــلکو ته سوما ورکو
راځه دې ورکـــو دربـــدرو لره
جـــذبه د مینې او وفـــا ورکو

● ● ●

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه په غــرو کې ازادي وینښه کو
راځه چې خاورې ته احساس ورکو
راځه په شپولو کې برېښنا خوره کو
راځه چې کـــــانو ته حواس ورکو

● ● ●

پام کوه له خلکو نه بیعت مه غواړه
راځه چې مـوږ دوی ته بیعت ورکو
راځه د خــــــــلکو دعزت لپـاره
په قربـانۍ کې خپــــل عزت ورکو

● ● ●

ستا زړه که سوی، زه یې لا سوځم
ستـــا فریادونو ته طاقت ورکـــــوم
زه سور انــــــګار یمه داغونه ږدمه
د غیــــــرت چیغو ته قوت ورکوم

● ● ●

هره څپه چې په لنــدي کې خوځي
د تا د ګـــــرمو وینـــــــو شور ښیي
هر نوی بـــاد چې په وطن خوریږي
د تا د ځــــــــوانو هیـــلو زور ښیي

● ● ●

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک وايي دا چې ته شعرونه ليکې ؟
څوک وايي دا چې ترانې جوړوي ؟
شاعر خو هسې ښکلې حسن ستايي
ته ستر انسان يې زمـــــانې جوړوي ؟

● ● ●

څه دی دا ژوند ، دا لندکې اوسيلی
چې ديوې گرمې چيغې زور نلري
راځئ دا زړونه څپـــو ته وغورځو
که چپـــړې اور نلري ، شور نلري

● ● ●

گوره تياره دې وارخطا نکــــــري
اجمـــــــله شپې پسې خو لمر راځي
زه چې د خپـــلو پيغلو وروځې گورم
مـــا ته په ستر گـــو کې خنجر راځي

د کب ۱٦ کابل ۱۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر ته

(دوهم پیغام)

اې خوږه یاره د غمـــــــــونو اشنا
د خوادثو د کلــــــــــــونو اشنا
ته د اټک د ســــــــــر کشیو گواه
زه د پامیــــــــــر د توپانونو اشنا

● ● ●

غیـــږه که خلاصه چې اشنا راځي
کاروان د مینې او وفـــــــا راځي
ستاسې د تورو د جگـــړې ډگرته
پیغـــــــام د فتحې د سبـــــا راځي

● ● ●

د غـــــــلامانو د ځنځیــــر سازونه
زموږ په غــرو کې ولولې خوځوي
دا نوی نوی تقـــــاضې د زمـــان
د ولسونو رگ او پلې خوځـــوي

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعـــــر چې لیـــکمه لمبې وهي
لکـــــــه امـــو شي او ځپې وهي
دا د بیلتون په اور کې سوی زړګی
چې تا رایاد کمــــــــه ناري وهي

• • •

زړه رانیږدې که چې څه اور درکم
د شور د پاڅه نـــــوی شور درکم
مټ له پـــولادو سره وجنګـــــــوه
زه به دې جنګ ته نوی زور درکم

• • •

په دې تیـــارو پسې رڼـــــا راځي
میـــــــــدان د تور و نن سبا راځي
د بیـــــــــلتانه د تـــورو لړو تر شا
شغـــــــله د سترګو د اشنا راځي

• • •

د نړۍ بـــــــاده مستــــــانه راځه
زه د مستۍ څـو ارمـــــانونه لرم
د لیـــــــونیو د محفـــــل نذر ته
په زړه کې پټ څو پیغـــامونه لرم

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې تر ايرو لانـــــدې مخفي اوره
لېږ.مې رسوا که زه رســـوا ښه يم
پټه نغمه يم د فطـــرت په زړه کې
تردې يـــوه چيغه بـــرالا ښه يم

● ● ●

مـــا دا کمکې غمونه ـ نه غموي
زړګيه مــــا لره لــوی غم راکه
سر مې کوچنی صنم ته نه کوزيږي
يو بې همتـــا غـوندې صنم راکه

● ● ●

راته ښکاريږي چې اوس لمر خېژي
د شپې لمنې کې رڼا ښـــــکاري
د زړه کړکی چې څنګه خلاصه کمه
منظر د نوې پښتونخـــوا ښکاري

● ● ●

د ازادۍ د مـــــوزيک مستې څپې
لـــــکه سيــــلاب په پښنور درځي
غـــــورځونه پرانيـــزه دردمنه اشنا
ګـــوره چې څومره زورور درځي

● ● ●

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته هاتيـــانو ته کږې لوېـــــدلې
خو اوس مستې کوي کږې ماتوي
د ازادۍ نه راوتـــــلې فـــرياد
دا پرونۍ زړه نـــــــړې ماتوي

● ● ●

د هنــدوکش لمن کې نوي ګلان
راغــوړېدلي دي وږمې خـــوروي
د سرو غـــــــرونو په ذره ذره کې
راغـــــورځوونکې زلزلې خوروي

● ● ●

ستـــا چيغې اورم خـــو تر ور نه يم
ځـــــــکه زه ګورم چې دوا درځي
د تورې شپې له تيـــارې مه وېرېږه
سپيــــدې چاودلي دي سبا درځي

دزمرى ۱۲ کابل ۱۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کنړ سین

یه مسته مسته ، کنـــــړه مسته

په ځـــــګوپټه ، په تګ بدمسته

پیـړۍ تیرېږي ته ورته نــــاځي

اوړي راواوړي قـــــرار دې نسته

● ● ●

په سر دې دروميسپینکې ځګونه

لـــکه په شنه کې دوریځـو غرونه

هسې ښـکارېږي لکه چې وراکې

نجونه په سر وړي د ګل شکرونه(۱)

● ● ●

دغه چې بولې د ژونـــد سنـدره

درنې بوللی ، خـــوږې شکرې

چاته یې وایي ، چاته یې لیـــږي

دا بې اثـــرې ، دا مرغــــلرې

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا ته ورښيي دا غورځنـــګونه
سرکشي منـــدې، ازاد موجونه
په لويو کـــاڼو ککـــره ټو کې
د چا لپـــــــاره دا ټکـــــرونه

• • •

دا څه جنـــون دی ستا په څپوکې
دا څه مستی ده ستـــا په رګوکې
څه هنـــګامه ده چې پای يې نشته
ستا په سرود کې، ستا په نارو کې

• • •

له ښاره راغلم چې خوب به وکړم
تسـل د درد او اشـــــوب به وکړم
ستا څپې راغلی زه يې بيـــدار کړم
په ما حرام دی چې خوب به وکړم

• • •

اوس چې ستا زړه کې څپه خوځېږي
شعر او سرود شی له مـــا خورېږي
خـــــلکو ته وړمه د تا خبـــــرې
پې راژوندي شی ورته نڅيـــــږي

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې لېونیه د کنډ سینه
چې دې اخته کړم په رسوا مینه
اوس خو نو ورکه دا زما زړه ته
خپله ځپانده سرکشه وینه

• • •

غېږ دې کړه خلاصه چې کمه سمی
ستا په څپو کې اوښکې ویرجنی
ستا په توپان کې خپل شور خوندي کم
چې زرغونی کړي رالوڅی ونی

• • •

زړه نړۍ دې ، نوې نړۍ شي
په دې تیارو دې رڼا خوره شي
د عشق د دود دې هره بلۍ شي
د ورور ګلوۍ دې هره بانډه وي

• • •

یه مسته مسته ، کنډه مسته
په ځنګو پټه ، په تګ بدمسته
د ژوند جاله مې درکې لاهو کړه
اوس یې درنیسه اې زبر دسته

د سلواغې ۲۴ جلال اباد ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دربارې شاعر سره

د ښکلو نجونو او ګلونو شاعر
په سپینو لېچو د خوبونو شاعر
د فحاشیو د بزمونو شاعر
د ځو خیرنو ارمانونو شاعر

● ● ●

په ډېره نرمه مهربانه ژبه
ما نه پوښتل ته هم شاعر یې ګوره؟
د ژوندانه په دغه ښکلی لارکې
ته هم د حسن مفسر یې ګوره

● ● ●

ته د ګلانو زمزمې اورې؟
ته د پیرونو ترانې اورې؟
ته اوازونو کې رنګونه وینې؟
ته په رنګونو کې نغمې اورې؟

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا د ترخـــو شونډو نیشه لیـــدلې ؟
تايې د سرو شیشو شراب څښلـــې ؟
تا په مالــــګینو پستو شونـډو ایښې
تا په ســـــکروټو کې ګلاب څښلې

• • •

د لنـــډو څڼو تر چتــــــــر لاندې
د غوږ بربښنــــا په زړه ویشتلې نه یې ؟
کـــــله نیشه کې د پیغــــلو ټوخندې
په هوســــــــونکې ځبښلې نه یې ؟

• • •

د مستې ښځې یـــاغي شوی نظـــر
تا په شرابـــــــوکې لیـدلی که نه ؟
د عشـــق اواز دې د هغې له زړه نه
په اوسیـــلو کې اوریـــدلی که نه ؟

• • •

د تور کمیس له سپخیــــدلي درزه
د نجـــل پوستکې تخنـــولی نه یې ؟
تا چې د حسن لوټمـــــــاري کوله
هغې په غـلا بـــــاندې نیولی نه یې ؟

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــله دې حـــور د مشرقه سره
د مې جامـــــونه جنـــګولی که نه ؟

کـــله دې تې د مغـــربې ښاپیرۍ
په نڅېـــــــــدو کې زنګولی که نه ؟

● ● ●

کـــله د لنډو کمیســـونو اعجـاز
له ساړه عقـــله راایستـــلی نه یې ؟

بیـــا دغو ښنیـــو بلـــورینو ورنو
د شوق په اور کې سوځېدلی که نه ؟

● ● ●

تا خلاصی کړې دي د نجونو تنۍ
تا له چا ایستی دا ایستـــلو جامی ؟

چا چې پټ کړی په شوخۍ کې بدن
تا یې چیـــرلی د چیـــرلو جامی ؟

● ● ●

کـــله دې شین کمیس په سپینو پښو
چېـــــرې لیدلی چې ښویږي پسی ؟

له زنـــګنو تر ښـــکلو تیـــو پوری
ورو ورو خوځیږي او لوځیږي پسي ؟

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا لوخــــه شوې غنــم رنگه نجلی
سرې رنـــايي لاندې ليـدلی که نه؟

تا د نیشي په لیـــــونی جهان کې
پخپـــــلو مټو کې نیـــولی که نه ؟

• • •

تا په سینه بانـــدې داغــونه ايښی
چـــا د ګرمو پیــــدونکـــو تیو ؟

تايې رودلی دي د نـــــارو څوکی
ته يې مست شوی يې په سپينو ميو؟

• • •

کــله د عشق او ګنـاهونو سين ته
په مجبــــوری کې ښويدلی نه يې؟

د چا په ګرمه په تبجنه غيـــــږ کې
زړو شـــرابو څمـــــلولی نه يې؟

• • •

که ته شاعر يې د عشقــونو اوسه
څه د شرابـــو څه دنجونو اوسه

څه د ځوانيـــو د خوبـــونو اوسه
څه د ګناه او څه د خوندونو اوسه

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په باغـــــونو کې ګلـونه ستایه
ته په ګلـــونو کې رنـګونه ستایه

ته د زرې جامو په مورګـو باندې
د چا د سرو شونډو لالــونه ستایه

● ● ●

که ته شاعر یې د غمـــــونو مه شه
کور د دردونو او رنځـونو مه شه

د فریـــادونو کـــــــړاوونو مه شه
د ټول عـــــالم د عذابـونو مه شه

● ● ●

ستایې د خـــلکو له رنځو سره څه؟
ستا د بزګـر له ورځو شپو سره څه؟

چېـرې چې غواړې پالنګ وغوړوه
ستایې له سمځـو او کپو سره څه؟

● ● ●

مـــــا وې شاعره؛ اې زړه شاعره
لادې ناولی هوســـــــونه شته دې

لا دې په سر کې د فتنې لوخـــرې
لا دې په زړه کې فسادونه شته دې

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د ســــــلطان د دربارونو شاعر
زه د محـــــرومو ولسونــو شاعر
ته د خمـــــونو او جامـونو شاعر
زه د پیـــــړۍ د قیــــامونو شاعر

● ● ●

ته د پاچـــا دغــــرورونو شاعر
زه د غـــــلام د فـریادونو شاعر
ته د ســــلطان د نعمتـــونو شاعر
زه د بزګــــر د سوکړکونو شاعر

● ● ●

ته د مـــــانۍ د اقبــــالونو شاعر
زه د کیــــږدۍ د ادبارونو شاعر
ته په بزمـــــــوکې د نازنو شاعر
زه په زنــــدان کې د مرګونو شاعر

● ● ●

ته د نیکمـــــــرغو پسرلیــو بریښنا
زه د بدمــــرغو بارانـــــونو ږړا
ته مابنامی کې د بزمـــــــونو نڅا
زه سبــــــاوون کې د تیغونو ځلا

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د مظـــــلوم دغورځېدلو ګواه
زه د ظالــــــم د غـــرېدلو ګواه
زه د دهقــان په ویلی شوې غوشه
د زمینـــــــدار د شخووهلو ګواه

● ● ●

زه د بې وسو د ځګېــــــرویو اواز
د اسیـــــرانو د پیـــــریو ژړا
زه ولســــــونو ته د مسني قــاصد
زه ظالمـــــــانو ته د تـورې سزا

● ● ●

زه د بربنـــډو د بزمـــــونو نه یم
د خـــــودفروشو د عشقونو نه یم
زه د اغــــــزو یم ، د ګلونو نه یم
زه دوزخی ، د جنتـــــونو نه یم

● ● ●

زه عــــــذابونو زیــــږولی یمه
زه توپــــــانونو ازمـــویلی یمه
زه د خـــــوني بادو څپیړو په مخ
تر زر کـــــــرته ډېر وهـلی یمه

● ● ●

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د وطن د غـــــــریبیو بچی
د تورو شپـــو د بې وسیـــو بچی
د نامینـــــــدیو د سلګیـــو بچی
د بې ثمـــــــره اوسپـــلیو بچی

● ● ●

زه د غمـــــونو عـــذابونو شاعر
د یو وطن د کـــــــړاوونو شاعر
زه د بزګـــــرو د ننـګونو شاعر
زه د کـــارګرو د جنګونو شاعر

● ● ●

زه چې شاعر یم د انســـان د مینی
ریږګالـــــــونکو ته شعرونه لیکم
زه په مـــــالوچو کې لمبې کرمه
زه په بارونو کې اورونه لیـــــکم

● ● ●

زه همـــــــدغه یمه، دغه به یمه
نــــګه د خـــلکو وم، نګه به یمه
د زیارستـــونکو د مرچـــلو پرچم
لـــکه پخـــوا چې وم، هغه به یمه

دوری ۱۲ کابل ۱۳۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکه لار

غـــرونو بيا د لــړو څـــادر واغوسته
بيـــايې د تنـــدي تبۍ لنـدی شولې
پاس له هســکو څوکـــونو نه ژورو ته
ړنــــــګی د وريځو قــــافلې شولې

• • •

بـــاد په مخه رټی دوورو اوښــــان
ښکته، لا هم ښکته، مخ په ځوړوځی
خـــوړ کې له نمجنو او لنـــــدو بوټو
څاڅی ساړه څـــــاڅکي او په تړوځی

• • •

پورته د اسمـــان د مخ په ګونځو کې
ورکـــه ده له سره د نـــــرمۍ مخه
دم په دم بنـــدېږي تـــودو سيمـو ته
لاره د رمــــو او د کيـــږدۍ مخه

• • •

(c) ketabton.com: The Digital Library

وريځـــو ړنګۍ کړې د نجات نښی
واورو د لاروو پښی ترلـــــــــی دي
لړو د ماښـــام په ګونـــګه خره کې
غـــروکې د شپنـــو لارې وهلی دي

● ● ●

زه چې د دې سختو او سړو غـــرونو
يو د ورکــــــو لارو مســـــاپر يمه
زه د ياغـــــــی مينې د وزرو په وزر
دلته خپــــــلو ورکـــو پسې سر يمه

● ● ●

زه چې په دې شپه کې له توپـــان سره
کنـــــدو ګړنـــګونو کې خوځېږمه
هيـــــله مې دغه ده خپـــلو هڅو ته
زه به خپــــــلې مينې ته رسېـــږمه

● ● ●

يه په ويده لمـــــر کې د شغلو حورى !
پرېږده چې په ليځه دې سر کېـــــږدم
مه ته زمـــــــا په مـــخ ور مه ته !
شپه ډېـــره سړه ده او زه ريـــــږدمه

● ● ●

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږده چې د تا په تـــــــوده غېږه کې
دا د مـــــرګ دور کې شپه سبـــا کمه
پرېږده چې د مینې په مستیـــــــــو کې
دا د غـــــــرونو ورکه لار پیـــدا کمه

دمرغومی ۱۱ کابل۱۳۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شاعر ته[۱]

یه د هیلمند د غورځنګونو عطا
د یاغي سین د فریادونو عطا
د ویدو دښتو په سړه سینه کې
د یو ملت د عذابونو عطا

• • •

د هر ماښام له وینو ډک ګوګل نه
ستا د خوږمن زړګی ناري اورم
د هر غمجن نسیم په ښکلی ژبه
ستا د دردونو اشاري اورم

• • •

د تارګو ته چې کوم ساز رائحي
ما ته دغلته آواز رائحي
ته د آغاز د لذتونو کافر
ما ته ارمان اوس د آغاز رائحي

• • •

۱ ــ هادي عطایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرې شپې په اوسيلو کې ولى
ما ته راليږي دا سرې ساوې
دا د ناصورو ځيګرونو ځګېروي
دا د پېريو دغمونو ناوې

• • •

ته وايې وسوم ، زه دې سوی غواړم
چې سوی نه وي خو پتنګ نه وي
ته د حرمان په چړو ژوبل ښه يې
چې ژوبل نه وي خو د جنګ نه وي

• • •

په آرامۍ کې دې زوال وينم
شاعره ګوره چې خراب نشي
ياغي ځپه شه د دریاب په زړه کې
ګردابه ګوره چې سراب نشي

• • •

شرم دی شرم د سارا اغزي ته
چې رنګ او عطر د ګلانو لري
پېغور پيغور دی د توپان مرغه ته
چې لطافت د بلبلانو لري

• • •

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــله چې ونخېـږي تـــــورې څپې
کــله چې وځېږېـږي خـــړې لړې
کــله چې وايښې سپينـــکې ځگونه
کــله چې وځبې دغـــــــرونو تړې

● ● ●

کــله چې ووزي له ياغي وريځــــو
د قهـــــرجنو تنــــــــدرونو آواز
کــله چې يو شي د درياب کړيـــکو
په يرغلــــو کې د برېښنـــاوو پرواز

● ● ●

هله درياب ، درياب درياب ښـــکاري
د قدرتو د عظمتـــــــونو زانــــگو
ستر برېښې ، ښـکلی او ژوندی برېښي
د حرکت او بدلـــــونو زانــــگو

● ● ●

همدې ياغی، ياغی، ياغی ته گــــوره
څومـــــره قوي او هيبتناک ښکاري
رعب او ويره او پرتـــــــم خوروي
آزاد او ښـــــکلی او بېباک ښکاري

● ● ●

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته هم دریاب یا د دریـــــاب زوی شه
د سره هیلمنـــد د سیــــلاوونو شاعر
یا د وطن د سوځـــــــونکو ورځـو
د یرغـــــــلونو ، ګـــردشونو شاعر

• • •

شه د ساړه رغــلی په مړو ایــرو کې
د بیا لمبـــــــو د بلېــــــدو هادي
شه د ځپو د شوګیـــــــریو همـــراز
شه د هیلمنـــــــد د ترانـــو هـادي

• • •

هیلمنـد خو مست دی ، د مستیو شاعر
زمـــــوږ د هیلـــــو د هستیو شاعر
د زمــــــانې د سرکشـانو سرکش
د دې وطن د بدمستیــــــــو شاعر

• • •

لکه له زغــــــرو تبنتیدلی ښامـــار
له هـــــرې تیـــــږې سره تن وهی
په هـــره پړښه بانـــــدې خوله لګوي
نویو سیــــــــلونو ته لمــــن وهي

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د محمـــــود د حمـــاسو شاعر
دی د مسعـــــود د تلـــوسو شاعر
دی د آسمـــــان د تنـــدرونو ویاند
دی د سرو وینـــــو د کاسو شاعر

• • •

دی د افغـــان د عظمتـــونو راوي
دی د میـــرویس د یرغـــلونو راوي
دی په ایـــران کې د هوتـــکو وړونو
د ترخـــــو مانو او مـــرګونو راوي

• • •

دی د وطن د کــــــړاوونو نـــاره
دی د تاریـــــخ د مرســـلانو امیر
دی د جهـــان د حواثو نهنـــــګ
دی د زمـــان د آسمانونو قجیـــر

• • •

دی د کــــلونو په تیـــاره تونل کې
په سختـــــو لارو د مـــزلونو هادي
دی د پیړیو په ستومـــــانه زړه کې
په اوږدو شپـــــو کې د صبرونو هادي

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ته ربنتیـــایې د هېلمنـــــد شاعر
د یاغی سین د غـــــورځنګونو هادي
نو د پیـــړۍ په کـــر کېچنه لارکې
شه د زلمـــــو د ارمــــــانو هادي

• • •

ورځه راویښ که د غضب بـــــادونه
په سپین میـــــدان شه د توپان هادي
ورځه مــــــاتو شه ، د نجـــات ماتو
په سختــــــو لارو د انســـان هادي

• • •

بانــدې راووزه د جــــګړې ډګر ته
لویـــو ننګونو ته قـــوت ورکـــړه
له کــــلکو کارو سره وجنــــګېږه
ځـــــوانو موجـــونو ته طاقت ورکه

• • •

د دښت بادون چې ځګـــرېږي عبث
ورکـــه دا ته د جنــــــګېدو ژبه
د دې بیـــدیاوو د خـــورو پرګنـو
د ویښیــــــدو او جګیــــدو ژبه

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې تورو تورو غـــــرو ته وغــــږوه
د خپـــــلې سرې فلسفې سره شعرونه
دغـــو سرو خــــــاورو ته ننه بــاسه
لـــــکه د اور غــــوندې تاوده شعرونه

● ● ●

دې کنډو خلکـــــو ته غوږونه ورکه
پرېږده چې واورې د توپــــــــان آواز
دا له جهـــــــــانه یتیم شــــوی وطن
پرېږده چې واورې د جهـــــان آواز

● ● ●

شي د خپــــــو د يرغــــــلونو وطن
د انقـــــــلاب د ارمــــــانونو وطن
د تنــــــدرونو تر اورونــــــو لاندې
د نوي ژونـــــــد د تــــــکلونو وطن
دزمری ۱۰ کابل ۱۳۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

يه خلکو خلکو

(دوهمه ترانه)

يه خــلکو ! خــلکو ! دوطن خلکو !
يه د دې غــــــرونو مبـــــارزانو
آيا در رسي شور د مـــــــوجونو
په شپه کې چيـغې د مـــــانوګانو

• • •

د وطن غيـــــږه پرون بستــــر ؤ
خو اوس د وينــو ، ياغي درياب شو
پکې ډوبيـــــږي هر يو نـــاولی
هغه چې خصــــــم د انقلاب شو

• • •

اوس ترینه تښتي په بيـــړه بيـــړه
څوک چې د خوښو ورځو ياران وو
په سرو لمبـــــو کې ورته ولاړ دی
څوک چې د خلکو خدمتــګاران وو

• • •

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږدۍ

ښه ده چې ځمکه په لړزېــــدو شوه
ښه ده چې پای شوې تورې چوپیاوې
ښه ده چې پراخه شو میــدان د منـډو
ښه ده چې یو شوې تــــولې ژړاوې

● ● ●

اوس خونړۍ شوې د وطن او ښـــکې
پکې نسکـــــور د زور بېــرۍ شوې
د شهــزادګیــو د سرو غـــــروانـدې
د ماتېــــدونکو غاړو کــړۍ شوې

● ● ●

وطن راویښ شو خـــلک جنګېږي
هـــره وږمه یې د ننــــګ نغمه ده
د خـــــاورې هـــــره ذره تبجنه
د نېـــــکو، بدو تر مینــځ جـګره ده

● ● ●

اوس راژوندې شو مــــړه آوازونه
دا د پېـــــړیو چوب فریــــادونه
دا په ګــوګل کې د اور بڅـــرکې
پټ غضبـــــونه، پاک کســـاتونه

● ● ●

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اور په سین کې اوس لامبــوزن شو
هـــــغه چې هسې نقش زمیـــــن ؤ
د لوخو تورو ، میـــــدان ته وووت
کـــوم چې د مخې ، تمـــاشا بین ؤ

• • •

پرېږده چې لـــوړ شي، آواز د تنـدر
پرېږده چې ووزي ، دوینـــــو لارې
پرېږده چې لنډ شي، پرېږده چې پرې شي
دا تور لاســــونه ، نا روا چـــارې

• • •

دا به وطن ته د عـــــــزت نوم شي
دا به د خـــلکو دژوند مضمون شي
دا به یوه لاره د قـــــــــربانۍ شي
دا به د ځمــــــکې یو نوی یون شي

• • •

دا به راوینښ کړي ، ویده ننـــګونه
دا به بیـــــدار کړي ، پټ غیـــرتونه
دا به رواج کـــړي ، نوی نرخـــونه
دا به رڼـــا کړي ، د بزکـــر خـــونه

• • •

سلیمان لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره ځغله، تر څو چې ځغلې
دا سوځوونکې د اور سېلونه
ورسره لوبه، څومره چې لوبې
دا د سرکشو، څپو سېلونه

● ● ●

دا سنګرونه، دا سنګرونه
د اور واټونه، د وينو لارې
دا تماميږي، دا هواريږي
د سر په لوبه، نه قلارې

● ● ●

پښنه پخه ږده، وارخطا نشي
دا د مېړانو، لومړنی باب دی
په دې کې نشي، د ناز خوبونه
دا انقلاب دی، دا انقلاب دی(۱)

۱۳۶۰ر۸ر۴

۱ ــ د (يه خلکو خلکو) «دوهمه ترانه» په دوهم چاپ کې زياته شوې ده.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library